د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

05 فروری 2026

# د سورهٔ مُلک تلاوت



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه **(2):** دُعا يادول: 5 منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ 72 **نیک اعمال** کښې د يو نيک عمل د **سورۂ مُلک د تلاوت** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د اودهٔ کیدو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به يادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیم!

## د سورۂ مُلک تلاوت

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** تاسو خپل مجلسونه پهٔ ما باندې پهٔ درود لوستلو ښائسته کړئ بے شکه ستاسو پهٔ ما باندې درود لوستل به د قیامت پهٔ ورځ ستاسو د پاره نُور وي۔[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علىٰ مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 4

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د الله پاک پهٔ فضل سره امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ ته د خپلې اِصلاح د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې نیک اعمال رساله راعطا کړې ده د پاره د دې چې مونږ د دې سوالونو پهٔ ذريعه د خپلو اعمالو جائزه واخلو او د ګناهونو نه د بچ کیدو سره سره د زياتو نه زياتې نیکۍ اوکړے شو۔ نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 4** پهٔ باره کښې زده کړه کوو۔

---

[1] ... مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:291، حديث:3330۔

**نیک عمل نمبر:** 4 آیا تاسو نن شپه سورۂ مُلک ولوستو یا واوریدو؟ [1]

## آیت مبارک

الله پاک فرمائیلي دي:

اِنَّ الَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِیَةً یَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ (پاره:22، سورۂ فاطر:29)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه هغه خلق کوم چې د الله د کتاب تِلاوت کوي او نـمونځ قائم ساتي او زمونږه ورکړے شوي رزق نه پټ او ښکاره څۀ زمونږ پۀ لار کښې لګوي هغوئي د داسې تجارت اُمیدوار دي چې هغه به هیڅکله هم نۀ تباه کیږي۔

پۀ دې آیت کښې بیان کړے شو چې کوم خلق روزانه قرآن کریم لولي، نـمونځونه ادا کوي او د الله پاک پۀ لار کښې مال لګوي، الله پاک د هغوئي د بخښلو او د هغوئي د اعمالو پوره جزا ورکوونکے دے۔ [2]

تفسیر نور العرفان کښې دي: چې د قرآنِ کریم تِلاوت بهترین عبادت دے او دا داسې عبادت دے چې که دا د وظیفې پۀ نیت باندې لولې او که د برکت د پاره پۀ هر قِسمه به ثواب میلاؤیږي، مونږ له پکار دي چې مونږ روزانه د اِستقامت سره د قرآنِ کریم تِلاوت کوو۔ [3]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

❀ د سرکار مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: پۀ قرآنِ کریم کښې د 30 آیتونو یو سورت دے هغه به د خپل لوستونکي شفاعت کوي، او هغه سورت **سورۂ مُلک** دے۔ [4] ❀ پۀ یو روایت کښې دي: حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: څوک

1... نیک اعمال، صفحه:2۔

2...تفسیرِ جلالین مع حاشیه صاوی، پاره:22، سورۂ فاطر، تحت الآیة:29، جلد؛جلد:3، صفحه:84۔

3... تفسیرِ نور العرفان، پاره:22، سورۂ فاطر، تحت الآیة:29۔

4...سنن الترمذی، حدیث 2891، صفحه:...۔

چې هره شپه د سوره مُلک تِلاوت کوي، اللہ پاک به هغه د قبر د عذاب نه محفوظ ساتي-[1]

**واقعه:** يو صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ يو قبر خيمه ولګوله او هغوئي ته دا نۀ وه معلومه چې دلته قبر دے- ناڅاپه هغوئي د سورۀ مُلک لوستلو اواز واوريدو (نو هغه صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته پته ولګيده چې دلته قبر دے) هغوئي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دربار کښې حاضر شو او عرض يې اوکړو: يا رسول اللہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما پۀ يو قبر باندې خيمه ولګوله او ما ته پته نۀ وه چې هلته دا قبر دے، ما د هغه قبر نه د سورۀ مُلک اواز واوريدو، قبر والا پوره سورت ولوستو- د رسالت تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: دا سورت د قبر د عذاب منع کوونکے او د دې نه نجات ورکوونکے دے-[2]

## د سورۀ مُلک د لوستلو پۀ باره کښې حُکمونه

**(1):** د ماښام د وخت د شروع کيدو نه واخله د صبح صادق (د سحر د وخت شروع کيدو) پورې پۀ هر وخت کښې د سورۀ مُلک د لوستلو بيان کړے شوے فضيلت نصيب کيږي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم![3] **(2):** پۀ نـمونځ کښې پۀ يادو د سورۀ مُلک تِلاوت کوئ! دا ډير افضل دے-[4] **(3):** سورۀ مُلک يا بَل هر يو سورت د ګرځيدو پۀ وخت او د کار کولو پۀ حالت کښې لوستلے شئ که چرې توجه مو نۀ خرابيږي- **(4):** داسې پۀ ملاسته هم دا لوستلے شي خو د قرآنِ کريم د اَدَب او د تعظيم پۀ خيال ساتلو ❁ ښپې راغونډې کړئ ❁ او که برستن وغيره مو اغوستې وي نو خُله ترينه رابهر کړئ- آؤ د دې خبرې خيال هم ساتئ چې بستره پاکه وي-[5]

1...الکبری للنسائی، جلد:9، صفحه:262، حديث:10479-

2...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی فضل سورة الملک، صفحه:672، حديث:2890-

3... فتاوی اہلسنت، فتوی نمبر: HAB 0661-

4...شعب الايمان، التاسع عشر...الخ، باب فی تعظيم القرآن، فصل فی استحباب القراءة...الخ، جلد:2، صفحه:412، حديث:2242-

5...غنية المتملی، صفحه:496-

**نوټ:** بعضې وخت د سملاستو سره خوب غالب کيږي، په داسې حالت کښې که سورۀ مُلک يا بل يو سُورت لولئ نو راپاڅئ او مکمل يې کړئ هسې نۀ چې داسې وشي چې لوستل يو څۀ غواړئ او د خُلې نه مو نور څۀ ووځي-

## د سُورۀ مُلک د لوستلو فائدې

❁ سورۀ مُلک به د خپل لوستونکي شفاعت کوي او ❁ د سورۀ مُلک لوستونکے به بخښلے کيږي[(1)] ❁ د سوره مُلک تِلاوت کول جَنَّت ته د داخليدو سبب دے ❁ څوک چې د اودۀ کيدو په وخت د سورۀ مُلک تِلاوت کوي د هغۀ د پاره ❁ به 30 نيکئ ليکلے کيږي ❁ 30 ګناهونه به ورله ورانولے کيږي ❁ 30 درجې به ورله اوچتولے کيږي[(2)] ❁ څوک چې د شپې د سورۀ مُلک تِلاوت کوي يوه فرښته په هغۀ باندې خپلې وزرې راخوروي او هغه د هٔغه اِنسان د رابيداريدو پورې د هر څيز نه حفاظت کوي ❁ هره شپه به د سورۀ مُلک تِلاوت کوونکے د قبر د عذاب نه محفوظ وي-[(3)]

## د سورۀ مُلک د لوستلو د عادت د جوړولو طريقې

❁ د سورۀ مُلک د لوستو او د قرآنِ کريم د تِلاوت فضيلتونه او فائدې خپلې مخې ته ساتئ ❁ د قرآنِ کريم د تِلاوت په باره کښې د بزرګانِ دين واقعات لولئ ❁ د سورۀ مُلک د تِلاوت د پاره وخت خاص کړئ او روزانه په هٔغه مقرر کړے شوي وخت باندې د سورۀ مُلک تِلاوت کوئ ❁ په کور يا جومات وغيره کښې روزانه په اِجتماعي توګه د سورۀ مُلک تِلاوت کوئ ❁ سورۀ مُلک په يادو ياد کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نن مونږ د نيک عمل نمبر: 4 مطابق د سورۀ مُلک د لوستلو

---

1...ابو داود، کتاب شهر رمضان، باب فی عددِ الآی، صفحه:230، حديث:1400، ملخصاً-

2...مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:62 63، حديث:179 ملخصاً-

3...مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:62 63، حديث:179 ملخصاً-

پۀ موضوع باندې کتابونه ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې روزانه به د شپې د سورۀ مُلک د لوستو یا د اوریدو نه پس اوده کیږو- اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم!

اللّٰه پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې یادولو والا دُعا

## د اوده کیدو پۀ وخت لوستلے کیدونکې دُعا

اَللّٰھُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیَا

**ترجمه:** اے اللّٰه پاکه! زۀ ستا د نوم سره مړ کیږم او ژوندے کیږم (یعني اوده کیږم او راپاڅم)- [1]

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَۃُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُورَۃ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پۀ بچ کیدو سره مو

1...صَحِیحُ البُخارِی ج 4 ص ۱۹۲ حدیث ۶۳۱۴-

نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا په تاسو او جې وئيلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آيا په مکتبة المدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو په ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا په 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا په وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار

نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟